**شرطپاڼه**

د( ٥٦ ) بـاب دوکـانونو جـوړول پـه ( ۳۳۲ ) مترمربـع ځمکـه کـي چـې امـارتي ملکيـت دی د هلمنـدولايت لښـکرگاه ښار دهلمندبُست دپنبې اونباتي غوړيوامارتي شرکت دفابريکې ( شمال ) طرف کې موقعيت لري.

**پيل/شروع**

**لومړی ماده:**

دا شرطپاڼــه دهلمندبُســت دپنبــې اونبــاتي غوړيوامــارتي شرکــت دملکيــت (٥٦) دوکــانونو دجوړولــو او دامــارتي شرکتونــو دمحترم لوی رياست د(۱۰۰۰) حکم نيټه ۱۸/ ۴ / ۱۴۴۷ په اساس ترتيب سوې ده .

**<u>دامارتي ملکيت ځانگړنې</u>**

**دوهمه ماده:**

**ياد/مطلوب ملکيت به د لاندې ځانگړنو درلودونکی وي:**

**۱- د ملکيــــت پراخـــوالی:** د مؤظــف ټــيم د نقشيـــ پربنســـټ، ( ۳۳۲) مترمربـــع ځمکـــه د(٥٦) مـــوقتي دوکـــانونو دجوړولـــو لپـــاره چـــي في دوکـــان د 6x4( 24 )مترمربع.(طـول ٦ او عـرض يـی ۴ ) مـتره ، چـي جملـه (٥٦) دوکانونـه کيږي .جوړه وي .

**2- فزيکـي حالـت: (۳۳۲) مـتره جـوړ سـوی داحـاطې ديـوال . چـي وروسـته بـه ذکرسـوی ديـوال تخريـب او**مطابق دبراورد به ٦×۴ کي متره کي به يو دوکان . جمله (٥٦) دوکانونه کيږي ودان/اعمارشی .

**3-موقعيت:** دفابريکې شمال طرف

4.جوړسوی براورد

دپروژې **نوم:** دهلمندبُســت دپنبې اونباتي غوړيوامارتي شرکت دفابريکې شـــمال طرفته د(٥٦) موقتي **دوکانونو دجوړولو** براورد .

دپروژې موقعيت : هلمندولايت لښکرگاه اوله ناحيه .دهلمندبُست دپنبې اونباتي غوړيوامارتي شرکت .

دپروژې مالک : دهلمندبُست دپنبې اونباتي غوړيوامارتي شرکت

دهلمندبُست دېنبې اونباتي غوړیوامارتي شرکت دفابریکې شمال طرف د(٥٦) دوکانونو برآورد .

| شماره | دکار ځانګړتیاوې | واحد دکار | دکاراندازه | مجموعـه بیـه په افغانیو | کتنی |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | لیول کاری دساحې دټولو اموراتو | مترمربع | ۲۲۴۰ | | |
| ۲ | ددوکـانونو دتهـداب لپـاره کنـدن کـاري پـه انـدازه فـی دوکـان 20x0.40x0.40 | مترمکعب | ۱۷۹،۲ | | |
| ۳ | ددوکانونودتهــداب ســمینټ کــاري مــارک (۱۵۰) انــدازه 20X0.40x0.60 | مترمکعب | ۲٦۴ | | |
| ۴ | ددوکانونو ددیوالونو بلوک کاري في دوکان (16x3.80x0.40 ) | مترمکعب | ۱۳۳۷,٦ | | |
| ۵ | ددوکــانونو دفـرش لپـاره سـاده سـمینټ کـاري پـه ضـخامت د(۱۰سانتی متره ) مارک ۱۵۰ | مترمکعب | ۲۲۴ | | |
| ٦ | ددوکــانونو دچــت گــاډر یولبــه دټولــو اموراتــو سره انــدازه ۴,۵ متره في دوکان ( ۸) دانې | مترمربع | ۲۰۱٦ | | |
| ۷ | ددوکـــانونو ددروازو پـــرسر دوه لبـــه گـــاډر انـــدازه ۴,۵ ( دوه دانې ) | مترمربع | ۵۰۴ | | |
| ۸ | ددوکـانونو دچـت لپـاره سـمیټي خبنـتي انـدازه (0.80x0.30) في دوکان ( ۱۰٦ ) دانې | مترمربع | ۵۹۷۳ | | |
| ۹ | د دوکـــانونو داخـــلي اودخـــارجي پلســـترکاري دټولـــو اموراتوسره | مترمربع | ۴۲۵٦ | | |
| ۱۰ | ددوکـانونو دجوړولـو لپـاره دشـمال طـرف پخـوانی دیـوال نـړول او مواد یی ټاکلي ځای ته انتقالول (۲٦۴) متره | مترمربع | ٦۱٦ | | |
| ۱۱ | دفي دوکـان دچـت کاگـل کـاري دټولـو اموراتـو سره پـه ضخامت ۱۰سانتی متره ( 6X4x0.10 ) | مترمکعب | ۱۳۴،۴ | | |
| ۱۲ | ددوکـانونو دچـت پرسربنـه کیفیـت لرونکـي پلاسـتیک دټولـو دوکانونو لپاره اندازه ( ۲۴ ) متره | مترمربع | ۱۳۴۴ | | |
| ۱۳ | د دوکـانونو لپـاره دبـرق مکمـل سیسـتم ( درې اصـلي گروپـان ، یوســاکیټ ، یوجــانبکس ، اوضرورت پــه انــداره ایرانــی لین دټولو اموراتوسره | مکمل | مکمل | | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۴ | ددوکانونو لپاره دوې دانې کشکي چادرې دروازې په ضخامت ۰،۵ ملی په اندازه ( 3x2) متره کې دټولو اموراتوسره | مقدار | ۵٦ | | |
| ۱۵ | دچادري دروازو روغني رنګ دټولواموراتو سره | مترمربع | ٦۸۸،۸ | | |
| ۱٦ | دټولودوکانونو داخلي رنګمالی (۷۵٪) افغان فیضي دټولواموراتوسره | مترمربع | ۳۴۰۴،۸ | | |
| ۱۷ | دټولو دوکانونو خارجي رنګمالي (۱۰۰٪) افغان فیضي دټولو اموراتوسره | مترمربع | ۱۷۰،۲۴ | | |

مجموعی قیمت ( ) افغانی کیږي .

**داعمار ( جوړولو لګښت ):(اجرت)**

**دریمه ماده :**

د 6x4متر ه في دوکان دجوړولو مصارف مطابق دبراورد ټاکل سوي .چې د(٥٦) دوکانونو مجموعي لګښت ( ) افغانی ټاکل سوی . دداوطلبانو په منځ کي ګټوونکی داوطلب به هغه شخص وي چې‌افر ته یې ترټولو داوطلبانو کښته قیمت ورکړی وي.

دکار په شروع کي قراردادي ته ۳۰٪ فیصده روپي ورکول کیږي پاتي ۷۰٪ فیصده روپي د دوکانونو ترتکمیل او تسلیمي وروسته قراردادي ته ورکول کیږي .

**د تړون(عقد) موده**

**څلورمه ماده:**

ددوکانونو دجوړولو موده (۲) میاشتي ټاکل سوې ، قرار دادي مکلف دی چي په ذکرسوي موده کي ددوکانونو دجوړولو چاري بشپړ اودوکانونه جوړ تسلیم کړي دځند په صورت کي قرارداد لغوه او دترسره سوو مصارفو مجرائې نه ورکول کیږي . طبعي پیښي (حادثې) ددې څخه مستثناء دي .

**دداوطلبی په پروسه کې د ګډون شرایط**

**پنځمه ماده :**

کوم کسان چې پدې شرطپانه کې د درج شوي دوکانونو د جوړولو په پروسه کې د ګډون غوښتونکي وي د هېواد د نافذه قوانینو مطابق باید لاندې ځانګړنې ولري.

1. د تړون قانوني صلاحیت ولري او د حقوقي اهلیت درلودونکی وي.
2. د تابعیت تذکره لرونکي وي او قانوني (۱۸) کاله عمر یې پوره کړی وي.
3. دساختماني شرکت معتبر جواز دځان سره ولري

4. د داوطلبی په پروسه کې د ګډون لپاره یې باید دهلمندبُست دېنبې اونباتي غوړیوامارتي شرکت ریاست عنواني یو رسمي غوښتنلیک وړاندې/ارایه کړی وي، شرطپانه او آفر یې ترلاسه کړی وي .اوخالي آفر دګ اوسربسته دداوطلبی مجلس ته راوړي .
5. د قرض او پور له ورکړې به عاجز نه وي او د تصفې یا انحلال په صورت کې قرار ونلري.

**د اسنادو سپارل/تسلیمي**

**شپږمه ماده:**

غوښتونکي (مستاجر) مکلف دی چې لاندې ذکر شوي اسناد او ضمایم یې د هلمندبُست امارتي شرکت دسوداګریزوچارو ریاست ته پدې شرطپانه کې د اعلان د ذکر شوي پای نېټې څخه مخکې وسپاري.

1. غوښتنلیک
2. دشرکت جواز
3. د تذکرې کاپي

**بانکي تضمین یا نغدي پیسې**

**اوومه ماده:**

د داوطلبی په مجلس کې دمستآجرینو هغو (ګډونکونکو ) څخه چې ددوکانونو دجوړولو داوطلبان وې دهردوکان دجوړولو لګښت مطابق دبراورد تعین شوی چې (۳۹۲۰۰۰) افغانی تضمین (کفالت) په ډول اخیستل کیږي ، دنورو داوطلبانو تضمین واپس ورکول کیږي، او دګټونکي شخص تحویل شوی تضمین د تړون(عقد) د نښه ترسره کېدو پخاطرددې شرکت په حساب کې دامانت (ودیعت) په ډول ساتل کیږي اودقرارداد په پای ددوکانونو ترتکمیل اوتسلیمی وروسته واپس ورکول کیږي اودبرنده (ګټونکي) شخص څخه دمالي توانایی دتثبیت په خاطر دپروژې ۳۰٪فیصده بانکي صورت حساب غوښتل کیږي .

**د داوطلبی مجلس**

**اتمه ماده:**

دداوطلبی مجلس دداوطلبی د هیئت تر څارنې لاندې د ګډون کونکو اشخاصو په منځ کې کوم شخص چې د شرطپانې شرایط پوره کړي وي، د ددوکانونو دجوړولو اودقیمت د اخري نرخ او د ګټونکي شخص د اعلانولو پخاطر د احکامو او کړنلاري مطابق دهلمندبُست دېنبې اونباتي غوړیوامارتي شرکت ریاست کې دایریږي.

**د ګټونکي شخص (مستآجر)مکلفیتونه**

**نهه ماده:**

قراردادي (مستأجر) په لاندې دندو/وجایبو مکلف دی

1. دشرکت دشمالي ساحې دديوال دتخريبولو اوساحې صافولو لګښت دقراردادي پرذمه دی .
2. ددوکانونو جوړښت اواعمار بايد مطابق دقرارداد او نقشي ترسره سي .
3. دکارپه جريان کې دقراردادي لخوا دقرارداد دفسخ کولو په صورت کې قراردادي مکلف دی چې تخريب شوی ديوال جوړ اويادجوړولو قيمت يې دامارتي شرکت حساب ته تحويل کړي .
4. : دذکرشوي دوکانونو دجوړولو قراردادي نشي کولای چې دبل قراردادي سره ددوکانونو داعمارچاري پروتوکول کړي .
5. ددوکانونو جوړول (اعمار) بايد دشرکت دمنظورشوي براورد مطابق ترسره سي ، ساختماني چاري يې په معياري اوباکيفيته موادوسره وي .

**د قرارداد ورکوونکي (مؤجر) دندې/ مکلفيتونه**

**لسمه ماده:**

قرارداد ورکونکی (مؤجر) په لاندې دندو مکلف دی چې دهلمندبُست دپښې اونباتي غوړيوامارتي شرکت د اړونده څانګو لخوا ترسره کېږي.

1. قرارداد نيونکی(مستأجر) ته دتضمين د تحويلولو لپاره د تعرفې توزيع کول.
2. قرارداد ورکوونکی (مؤجر) نشي- کولای چې د قرارداد لاندې جايداد د تړون د پای تـه رسېدو نېټې پورې بل حکمي يا حقيقي شخص ته په قرارداد ورکړي.
3. قرارداد ورکوونکی (مؤجر) مکلف دی چې قرارداد نيوونکي(مستأجر) تـه د ناحقـه ځورونکـو مزاحمـو اشخاصو يا نورو امارتي اداراتو د مزاحمت په صورت کې د اړونده اداراتو سره په تفاهم د قانون او احکامو مطابق مخنيوی وکړي،او د مزاحمت په شتون کې که چيري د امارت عوايد د کسر- خنډ او ځنډ سره مخامخ کيږي او د قرارداد نيوونکي (مستاجر) سره په کړو تعهداتو کې خلا رامنځته شي، د عدليي ارګانونو د تعقيب بر علاوه ياد اشخاص او امارتي ادارات د تاوان او خسارې پر ورکړه مسؤل او مجبور ګڼل کېږي.
4. کـه چيرتـه حقيقـي يـا حکمـي اشخاصـو څخـه څـوک د داوطلبـۍ مجلـس کـې ګټـونکی شي او د يـوې مياشتې په موده کې د تړون عقد ترسره کولو لپاره حاضر نه شي د هغه شخص تحويل سوي د تضمين پيسې يې د زيان/تاوان د جبران په توګه د امارت په حساب کې تحويليږي او جايداد د احکامو او کړنلارې مطابق بيا ځلې د داوطلبۍ او له لارې اعلان ته سپارل کيږي.

5-که چيرته تړون کوونکی پدې شرطپانه او تړون کې ذکر شوي مکلفيتونه تر سره نکړي او يا د تړون د پای ته رسېدو له نېټې څخه مخکې د لغوه/فسخ کولو غوښتنه وکړي پدې صورت کې عقد کوونکی د امارت د سنجش څخه وروسته د زيان/تاوان په ورکړه مجبور او مکلف دی.

**د داوطلبۍ په مجلس کې د ګډون څخه محروميت:**

**یوولسمه ماده:**

(۱)- ګډون کوونکي مکلف دي چې ددې شرطپاڼې مطابق ټولې فورمې او معلومات مخکې د اعلان د ختم له مودې څخه دسوداګریزو چارو ریاست ته تسلیم کړي ، غوښتنلیک او معلومات په خپل وخت نه سپارلو یا ارایه کولو په صورت کې د داوطلبی په پروسه کې د ګډون اجازه نه ورکول کېږي.

(۲)-ددې مادې په (۱) فقره کې د ذکر شویو اشخاصو سربیره لاندې اشخاصو ته هم د داوطلبی په پروسه کې د ګډون کولو حق نه ورکول کېږي.

-1 په چمتو شویو اسنادو او یا هم دقرارداد نیونې په ورستیو مرحلو کې د ناسمو معلومات وړاندې کوونکې

-2 په اسناد کې د جعل او دوکې شتون.

-3 د غوښتونکو او کارکوونکو تر منځ جوړښت او د اسنادونو او داوطلبی په برخه کې مرسته کول.

-4 د اسنادو وړاندې کولو په برخه کې ناوړه چلند، په شمول د فساد، اختلاس، د نرخ ټاکل، او د رازونو د پټ ساتلو/محرمیت نه رعایت کول.

-5 د داوطلبی په مجلس کې د مناسب حد څخه داسي قمیت وړاندې کول چې وروسته تري په شا تګ کوي/پښیمانه کېږي . د داوطلبی او املاکي تړونونو په پروسه کې د تخلفي سابقې درلودل.

(۳)- دهلمندبُست دېنبې اوبنباتي غوړیوامارتي شرکت مربوطه څانګه کولای شي د دې مادې په (۲) فقره کې ذکر شوي غوښتونکي/عریضه کوونکي دامارتي شرکت د جایداد(مأجور) د قرارداد په بهیر کې د شرایطو سره سم د یوې ټاکلې مودې لپاره چې د یو کال څخه لږ او د پنځو کلونو څخه ډیره نه وي دداوطلبی په پروسه کې د ګډون کولو څخه محروم او وځنډوي.او یا دا چې عدلیې او قضایي ارګانونو ته دې ور وپېژني.

**<u>شکایتونو ته لاس رسی:</u>**

**دولسمه ماده:**

ګډون کوونکي کولای شي د داوطلبی د پروسې په اړه خپل اعتراض، شکایت یا وړاندیز د داوطلبی پروسې له پای ته رسیدو وروسته د دریو ورځو په جریان کې د عریضې په بڼه دهلمندبُست دېنبې اوبنباتي غوړیوامارتي شرکت ریاست ته وړاندې کړي، البته اعتراض کوونکی د ټاکل شوي نېټې څخه وروسته د شکایت حق نلري.

**<u>د معلوماتو پیدا کول/لاس رسی</u>**

**دیارلسمه ماده:**

د لا زیاتو معلوماتو ترلاسه کولو لپاره، غوښتونکي (مستآجرين) کولائ شي د اعلان له پای ته رسیدو له نېټې څخه دمخه په کاري ورځو کې د سهار له30: 8څخه تر 3:15:بجو پورې دهلمندبُست دېنبې اوبناتي غوړیوامارتي شرکت دسوداګریزو چارو ریاست ته مراجعه وکړي او خپل ټول هغه سوالونه او معلومات چې دوي يې په اړه وضاحت غواړي ترلاسه کړي.

**خانگړي/ متفرقه حکمونه**

**څوارلسمه ماده:**

(۱- قـرارداد نیوونکی(مسـتأجر) مکلـف دی چـې ترقـرارداد لانـدې (مـأجور) ملکیـت بانـدې د کـړنلارې او ددې شرطپـاڼې د شرایطـو مطـابق داعـمار چـاری شروع کـړي ،او د تخلـف پـه صـورت کـې قـرارداد ورکوونکی(مـؤجر) کولای شي تړون فسخ کړي او یاده ساحه د کړنلارې مطابق بیا ځلې د داوطلبی اعلان ته ورکړي.

(۲)- دواړه اړخونـه کـولای شي خپلـې شـخړې د خـبرو اتـرو لـه لارې ددې تـړون د مـادو پـه رڼـا کـې حـل او فصـل کـړي. پرتـه لـه دې د سـوداگریزو تړونونـو د قـانون د اوه اتیـایمې(۸۷) مـادې لـه مخې،پـه تـړون کـې را منځتـه شـوې شخړې پـه یـوه باصلاحیته محکمـه کـې د دعـوا د درج کولـو پـر بنسـټ حـل کېږي،مگـر پـه هغـه صـورت کـې چـې پـه تړون کې بل ډول تشریح شوې وي.

(۳)-کـه چیـرې ملکیـت د محـاکمې لانـدې وي، قـرارداد ورکـوونکی (مسـتأجر) مکلـف دی چـې د محکمـې تـر پریکړې پورې د تړون مطابق انتظار وکړي.

(۴)-کـه د قرار داد د تـړون مـوده د محـاکمو پـه جریـان کـې پـای تـه ورسـیږي، د قرار داد ورکـول بـه د کـړنلارې مطابق ترسره کېږي.

**د تړون تر سره کول/انعقاد**

**پنځلسمه ماده:**

(۱) د هلمندبُسـت دپنبـې اونبـاتي غوړیوامـارتي شرکـت او گټـونکی شـخص مکلـف دي چـې دداوطلبـی پروسـې لـه بشپړیدو وروسته ددې شرطپاڼې،د هېواد د نافذه قوانینو او کړنلارې مطابق تړون تر سره کړي.

(۲) ددې تـړون د دواړو خـواوو حقونو،دنـدو او داسـې نـورو مکلفیتونـو وړاندوینـه ددې شرطپـاڼې پـه (۱) فقـره کـې شوې ده.

**د تړون ترسره کولو څخه څارنه**

**شپاړلسمه ماده:**

(۱) - د قـانون د حکمونـو لـه مخـې، د تـړون دواړه خـواوې دنـده لـري، چـې پـه تـړون کـې موجـوده مکلفیتونـه او تعهدات عملی کړي.